تل افغان

www.talafghan.com

**خپلواکه ، ناپېیلې ، تولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه**

بســــمل



# هرهغه څه چې دانسان روح او روان مړاوي کوي حرام دي

قدرمنو لوستونکو !

دسلامونو او درودونو په وړاندي کولو سره تاسوټولو ته ښې چارې غواړم هیله من یم چې په ورځنیوچارو کې بریالي واوسئ.

نن تاسوته دسیاست اودیپلوماسي له کرغېړنې دنیاڅخه بهر د ژوند په یوه بله اړینه او خوراممهمه برخه یو څو کرښې باسم ، هغه دشعر او موسیقي برخه ده.

دشعرپه اړوند خوبه نېغ په نېغه تاسوته دومره عرض کړم چې د پاک رب سوغات دی چې په خپل بنده یې لوروي همداراز موسیقي او ښکلې هنري غږ هم دالله تعالی لوربینه ده چې په یو نیم کس یې لوروي . خبره ډېره نه اوږدوم یوازې دموسیقي یا هر هغه هنر په اړوند چې تاسو په ربښتیني ډول خوښوي دومره لیکم چې حرام نه دی.

زما په نظر هغه څه حرام او غیر معقول دي چې دانسان روح او روان مړاوي یاشیته کړي.

که تاسومعقوله اوسنګینه موسیقي هر څومره زیاته هم واورئ بیابه هم دتاسوزړونه ونه وهي څوکه دنڅا اوګډا دا ناروا موسیقي ته دوه درې ځلې غوږ شئ خامخا به مو نا ارام کړي دا ځکه چې پایله یې په انسان او ټولنه منفي اغیز شیندي مانا د انسان روح او روان تر منفي اثر لاندې راوړي نوله دې کبله یې حرامه او نا مطلوبه موسیقي بللای شو .

اوس راځم دښکلې شاعري او ښکلې موسیقي نړۍ ته ولو که په هره ژبه او هره اله وي.

شاعران خو ډېردي سندرغاړي هم له حسابه وتي دي خو د شاعر علامه اقبال او ګران فطرت صاحب سیالي هر څوک نه شي کولای.

دعلامه اقبال په زړه پورې اشعار د درانه استاد ډاکتر محمد صادق فطرت ناشناس په سندريز ،هنري او زړه راښکونکې غږ کې له سرې څخه واک وړي.

څه چې زما په ذهن کې پر له پسې ډېرې بلوې هغه زما د تنکي زلميتوب زلمي اولېونې شېبې دي چې د هر ماخستن له لمانځه څخه وروسته به زه دګران ډاکتر صاحب محمد صادق فطرت ناشناس د خوږو سندرو په اورېدو په داسې حال کې ويده کېدم چې لمړی به مې فطرت صاحب ته دادعا وکړه چې الله پاک دې ډېر عمر در کړي .
اوس هم شکر له خدای تعالی څخه مشکور يم چې په موږ ګران ډاکتر صاحب ناشناس يې راته جوړ او په عزت ساتلی خو خپه له زماني، زمامدارانواو يو شمېر خپلو افغانانو څخه يم چې دسړي په قدر نه پوهيږي . قدرمنو !
نور مو وخت نه نيسم دا لاندې لينک چې له تاند څخه رااخيستل شوی کښېباسئ او دخدای تعالی ددې دواړو بنده ګانو ، علامه اقبال او فطرت صاحب وړتياوې پخپله وارزوئ:

**http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taanda&article=26255**

**http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/15460**